# صحي مرسته

## کله چې د استوګنې په یو مرکز کې نه اوسیږئ

که د پناه غوښتونکي په توګه، تاسو د استوګنې په مرکز کې نه اوسئ، تاسو بیا هم صحي مرستې ترلاسه کولی شئ. فیدازیل به لګښتونه ادا کوي.

### صحي مرسته څشی ده؟

- د ډاکټر یا د غاښو ډاکټر سره لیدنه
- د ډاکټر په درخواست طبي معاینه
- د ډاکټر د نسخې په اساس درمل (دواخانه)
- نورې صحي لیدنې

### د فیدازیل څخه به د صحي مرستې غوښتنه څنګه کوې؟

1. ډاکټر، روغتون یا فارمیسیست ته د ورتګ نه یو څو ورځې مخکې تاسو (یا ستاسو ډاکټر) باید د فیداسیل د صحي لګښتونو یونټ ته د آنلاین فورمې له لارې (په انګلیسي، فرانسوي یا هالنډي ژبه) یو غوښتنلیک وسپارئ.




**تاسو د ډکولو لپاره کوم معلومات ته اړتیا لرئ؟**

- بشپړ نوم
- د زیږیدو نیټه
- د OV شمیره یا ملي شمیره (تاسو د مهاجرت دفتر د سند په سر کې شمیرې وموميئ)
- د ډاکټر/ روغتون/درملتون نوم او نسخه
- د بریښنالیک پته
- د ټیلفون شمیره
- د ملاقات نیټه

2. که تاسو په انګلیسي، فرانسوي یا هالنډي نه پوهیږئ یا که تاسو انټرنېټ ته لاسرسی نلرئ له یو چا یا د داوطلب سازمان څخه وغواړئ ترڅو پدې هکله ستاسو سره مرسته وکړي.
3. فیدازیل به وګوري چې دغه لګښتونه به تادیه کوي که نه.
4. که چیرې فیدازیل موافقه وکړي چې د صحی لګښتونو تادیه وکړي، تاسو به د بریښنالیک له لارې د تادیې (ریکوزیتوریم) سند ترلاسه کړئ.
5. نو تاسو به دغه ریکوزیتوریم و ډاکټر، روغتون یا فارمسست ته ورورئ.
6. ستاسو د لیدنې وروسته به فیدازیل طبي لګښتونه ادا کړي.

### نور معلومات؟

فیدازیل صحي لګښتونه یونټ
د ټیلفون له لارې د دوشنبې څخه تر جمعې پورې، د
سهار له 9 بجو څخه د غارمې تر 12 بجو پورې شتون لري.
02/213 43 00 (هالنډي)
+32 (0)2 213 43 25 (فرانسوي)
له برښنالیک له لارې: medic@fedasil.be

### بلجیم کې پناهندګانو لپاره معلومات

www.fedasilinfo.be
www.asyluminbelgium.be

fedasil
FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

Towards a more integrated migration policy, made possible by the AMIF

Pashto